STAATSMINISTERIUM FÜR KULTUS | Freistaat SACHSEN

**وزیر**

د زاکسن ایالت د فرهنګي چارو وزارت
Postfach 10 09 10 | 01079 Dresden

د زاکسن آزاد ایالت کې
د عمومي مالکیت او اداري لاندې ښوونځیو کې
د زده کونکو والدین ته

د معلوماتو ورکولو لپاره:
په خیل واک ډول د مالکیت او اداري لاندې ښوونځیو کې د زده کونکو والدین ته

درسدن، 28 اګست 2020

آغلیو او ښاغلیو،
نیدلاو نارګ

د اوړي رخصتۍ پای ته ورسیدې — یو نوی تحصیلي کال پیلیږي. د 2021/2020 تحصیلي کال به ځانګړې ننګونې د ځان سره ولري. غواړم پدې تړاو چې د نړیوالي وبا شرایطو کې د ښوونځي فعالیت ستاسې او ستاسې د ماشومانو لپاره څه معنې لري، عمومي لید تاسې ته وړاندې کړم.

تاسې پوهیږئ چې ښوونځی څومره اهمیت لري. ښوونځی ستاسې ماشومانو لپاره د زده کړې او ژوند ځای دی چې هغوی پکې د نورو سره اړیکې ټینګوي او د ملګرو سره لیده کاته کوي، زده کړه کوي او ټولنیزو مهارتونو ته وده ورکوي. ماشومان او تنکي ځوانان ورځني جوړښت او عادي حالت ته اړتیا لري. هغوی د زده کړې، د پوهې د لیږد او د امکان تر حد پورې په ښه توګه د مهارت د ارتقا حق لري او خپلو ملګرو ته اړتیا لري. زه ډاډه یم چې دا چاره یوازې په ښوونځي کې د ورځنۍ زده کړې او ښووني له لارې په بشپړ ډول د تضمین وړ دی.

MACH WAS WICHTIGES
Arbeiten im Öffentlichen Dienst Sachsen

د اوړي رخصتیو نه مخکې مې اعلام کړې و چې ټولو زده کونکو ته د هغوی ټولګیو او ښوونیزو دورو کې د مهالني جدولونو او د ښووني جاري برنامو پربنسټ د اونۍ پنځه ورځو کې درس ورکول کیږي. زموږ هدف دا دی چې ښوونه د امکان تر حد پورې عادي پرمخ ویسو او د ښوونکو لپاره محدودیت لږترلږه ضروري ته راکم کړو. د ښوونځیو رخصتي په ناروغۍ د اخته کیدو د ډیریدو په صورت کې یوازې د اخرني اقدام په توګه کیدی شي — nur die Ultima Ratio.یوازې د اخرني ممکن کړنلارې په توګه.

ښوونځي ته تګ لازمي دی. روغتیا ته د پام وړ خطرونو له امله د حضوري زده کړې نه د زده کونکو معافیت باید د ډاکټر په تصدیق اثبات او باید ښوونځي ته ورکړل شي. پدې صورت کې اړوند زده کونکي د زده کړې دورې لپاره برنامه په کور کې ترلاسه کوي.

پته:
د زاکسن ایالت د فرهنګي چارو وزارت
Carolaplatz 1
01097 Dresden
www.smk.sachsen.de

د زاکسن آزاد ایالت کې په ټولو ښوونځیو کې د عادي زده کړې بیرته پیل کې هم هغه نظافتي او روغتیایی اقدامات باید مراعات شي چې مخکې ښودل شوي او کارول کیده. ستاسې ښوونځی د مرکز د نظافت ټولیزې برنامې له مخې د نظافت طرحې په اړه په خورا لیوالتیا سره تاسې ته معلومات درکوي.

د حمل او نقل شبکې ته اتصال:
د ټراموی لیکو سره 3، 7، 8

د بریښنايي لاسلیک لرونکي اسنادو ته لاسرسي په اړه معلومات او همدارنګه رمز لرونکي بریښنايي اسناد پدې سایټ کې موندلی شئ
www.smk.sachsen.de/kontakt.htm

غواړم دلته یوازې لاندې مهمو مقرراتو ته اشاره وکړم:

- هغه افراد چې په تاییدي ډول په سارس کوویډ – 2 اخته دي یا د (ټوخي، تبې، نس ناستي، ګرځون یا استفراق) علایم لري چې د دې مسلې ځرګندونه کوي، ښوونځي ته د ننوتلو اجازه نلري.
- که چیرې زده کونکي د دوه ورځو نه ډیر پرله پسې داسې علایم ولري چې په سارس – کوویډ – 2 د اخته کیدو ځرګندونه کوي، نو د ننوتلو اجازه د اخري ځل لپاره د علایمو د ځرګندیدیو نه یوازې دوه ورځې وروسته مجاز ده.
- هرڅوک چې ښوونځي ته دننه کیږي، باید لاسونه سمدلاسه په بشپړ او دقیق ډول ومینځني یا د عفونیت نه یې پاک کړي.
- د ښوونې ځایونه او هغه ځایونه چې ډیر کارول کیږي باید هره ورځ څو ځله تهویه شي.

د زده کونکو لپاره په عمومي ځایی حمل او نقل (ÖPNV) کې او همدارنګه د ښوونځي په بس کې د خولې او پزې پوښل یا ماسک کارول لازمي دي. د ښوونځي مدیر د ودانۍ د مقرراتو په چوکاټ کې مشخص کوي چې په کومو شرایطو کې یا د ښوونځي په انګړ کې باید د خولې او پزې پوښل وکارول شي. ښه ښوونه ښو اړیکو، د ځیرې فیډبیک او بشپړ تمرکز ته اړتیا لري. په ورځ کې څو ساعتونو لپاره د خولې او پزې په پوښلو سره دا کار ډیر مشکل دی. د همدې لپاره زده کونکي یوازې په اختیاري ډول او په بشپړ ډول د شخصي دلایلو له مخې د زده کړې پرمهال دا ډول محافظتي ماسک کاروي.

د ښوونځي مدیرانو د ښوونې کارمندانو سره یوځای 2021/2020 ښوونیز کال په ښه توګه چمتو کړی دی. د بیلابیل او ستړي کونکي دندو سربیره — د کرونا وبا پرمهال د ښوونځي د فعالیت برابرولو په اړه پریکړې هم د هغوی په غاړه دي. د ځایی او فردي بیلابیل شرایطو له امله ډیری شیان یوازې په ساحه کې په معقول ډول طراحي کیدی شي. مهرباني وکړئ ډاډ ولرئ او پدې اړه باور ولرئ چې دا کار ستاسې د اولادونو ګټې لپاره ترسره کیږي.

په عادي زده کړه کې په ټولګي کې د 1,5 متر واټن ساتل امکان نلري. زه کولی شم درک کړم چې د زده کړې دې وضعیت ځینې والدین، زده کونکي او ښوونکي ناراحت کړي یا هغوی پدې اړه ډیرې اندیښنې لري. په زاکسن کې د درسدن او لایپزیک پوهنتون د کلینیکونو له یوبل نه جلا او خپلواک مطالعو ثابت کړي دي چې ښوونځي د تګ راتګ محدودیت (Lockdown) ټاکلو څخه نه مخکې او نه هم د پرانیستل کیدو نه وروسته د ناروین په مرکزونو ندي بدل شوي او ماشومان د اخته کیدو پروسه کې ډیره لږه ونډه لري. ارزونې ادامه لري. غواړم تاسې ته ډاډ درکړم چې موږ هم پدې ناروغۍ د اخته کیدو د بدلون چاره او همدارنګه علمي موندنې په دقت سره څارو. موږ به په راتلونکي کې هم د حساسیت او مسؤلیت پیژندنې سره ملاحظات ولرو.

اوسمهال په ناروغۍ اخته مواردو شمیر ډیر ټیټ دی، که څه هم د زاکسن آزاد ایالت کې هم دا چاره د راتلونکي میاشتو لپاره د اټکل وړ نده. موږ باید بیاځل د وبا ډیریدل په پام کې ولرو ـ ښوونځي به د دې نه استثنی نه وي. په ناروغۍ د اخته کیدو پروړاندې د خلکو د خوندیتوب اړوند ټولو اقداماتو په تړاو اصولاً د برخو یا خپلواک ښارونو د روغتیا ځایی ادارې پریکړې کوي. په ناروغۍ د اخته شویو ټولیز شمیر په پام کې نیولو پرته، که چیرې په یوه مرکز یا څیرمه مرکزونو کې په ناروغۍ اخته موارد متمرکز شي (د ځایی ناورین مرکز) د روغتیا ادارې د ښوونځیو د 14 ورځو رخصتۍ او د ماشومانو د ورځنۍ پاملرنې په اړه پریکړه کوي.

ښوونکي د پیل نه ځانونه د حضوري ښوونې د ضروري محدود کولو لپاره یا حتی د ښوونځیو ځایی ضروري رخصتیو لپاره چمتو کوي.

د فرهنګي چارو وزارت د ښوونځیو او ښوونې ایالتي ادارې سره یوځای، د زاکسن آزاد ایالت مرکزي ډیجیټال خدمات تقویت کوي او همدارنګه دې خدماتو ته وده ورکوي. د ښوونې تکمیلي مینځپانګې، لکه ډیجیټلي کاري پاڼې، تعمالي فلمونه، د ښوونې چمتو کولو لپاره سرچینې برابر شوي دي. موږ د معلوماتو ورکولو، تکمیلي ښوونې او ملاتړ برنامه د ډیجیټل ښوونې لپاره— او همدارنګه د لیرې لارې ښوونې لپاره— پراخوو او همدارنګه ورته وده ورکوو.

STAATSMINISTERIUM
FÜR KULTUS

Freistaat
SACHSEN

ګران والدین،

زه د دې مسلې نه خبر یم چې په ډیرو زده کونکو کې د ښوونیز کارمندانو او والدین په څیر د ښووني د دوام په اړه اندیښني ډیرې دي. په کور کې زده کړې ـــ د ډیرو مختلف دلایلو له امله ـــ ډیرې توپیري پایلې درلودلې او وې نشو کولی چې د حضوري ښووني ځای ونیسي. د همدې لپاره په تیر نیم تحصیلي کال کې ټولې ښوونیزې مینځپانګې په بشپړ ډول ونه ارزول شوې. په ټولو ښوونځیو کې د نوي تحصیلي کال چمتو کولو لپاره په هر یوه درس کې د زده کړې فردي سطح ثبت شوه. ښوونکې به په جاري تحصیلي کال کې د مضامینو ویش د اړوند ښوونیزو مینځپانګو وړاندې کولو کې د شاته پاتې کیدو جبران لپاره په متناسب ډول اصلاح کړي. له تاسې نه غوښتنه کوم چې دا مسله درک کړئ چې د اجباري زده کړې برخې او په ښوونځي کې اجباري ښوونه د اوسمهال لپاره ترټولو لوړ لومړیتوب لري.

د جزئی مسایلو په اړه نور تفصیلي معلومات زموږ انټرنیټي سایټ کې پدې پته www.bildung.sachsen.de/blog وړاندې شوي دي. که چیرې تاسې خپلو کومو پوښتنو ته دلته ځواب ونه مومئ، مهرباني وکړئ د فرهنګي چارو وزارت یا د ښوونځیو او ښووني ایالتي اداري ته مراجعه وکړئ. د ځانګړي پوښتنو لپاره ستاسې ښوونځی د ځواب ویلو لومړنی مرجع ده.

د 2021/2020 تحصیلي کال به ځانګړې ننګوني د ځان سره ولري. تاسې نه غوښتنه کوم چې د ښووني او روزني مهارتونو او زموږ ښوونکو حساسیت باندې داډ ولرئ.

زموږ اولادونه تل توجه او پاملرني ته اړتیا لري. د کرونا موده کې دا زموږ ټولو لپاره دا معنی هم لري: د روغتیا او نظافت ټولیزو مقرراتو په پام کې نیول. راځئ غیرضروري اړیکي او په ځانګړي توګه بې خایه ټولنیزې اړیکې کمې کړو. مهرباني وکړئ ټولنیز واټن په پام کې ونیسئ ترڅو زموږ اولادونه د دې مسلې نه په امان کې وي.

تاسې ته، ستاسې کورنی ته او په ځانګړي توګه خپلو زده کونکو ته د ښه پیل او د بریالي تحصیلي کال هیله کووم!

په درنښت

Christian Piwarz